# د غني خان په کلام کښې طنز و مزاح

# The Satire and Humour in the Poetry of Ghani Khan

Gul Munir [1]

Ghani Khan Possess a unique place at the row of poets since long and in present day's literature and poetry his name is still alive even in the modern age. His poetic style and subject he chose modern form for his satirical verse. The following research has strictly related its contents to this of Ghani Khan and has made fruitful attempts to highlights his work of satire and humor.

د طنز و مزاح ارتقائي سفر د انسان د پيداوښت سره شروع شوے، د ژوند سره سم دغه اړخ راروان ؤ، چې ادب کښې هم داخل شو ـ دغسې د نړيوال ادب سره سره پښتو ادب هم په طنز و مزاح کښې د چانه وروستو نۀ دے پاتې شوے ـ د خبرو اترو تر څنګ د نثري ادب برسېره په شعري ادب کښې هم د طنز و مزاح سرخېنه په ښشپړه توګه شوې ده ـ ځنې ليکول خالص او په باقاعده توګه باندې د طنز و مزاح په حقله پېژندلے شي، او بعضې ليکوالو هسې کله نا کله په خپلو تخليقاتو کښې دغه رنګ شعوري يا لاشعوري طور باندې خپل کړې دے ـ وړاندې ددې نه چې د غني خان په کلام کښې د طنز و مزاح په رابرسېره کولو لاس پورې کړو، ښۀ به دا وي چې د طنز و مزاح د سرسري پېژندګلو هڅه وکړو ـ

د طنز و مزاح تعلق د ليکوال د اسلوب (سبک) سره وي ـ نۀ چې طنز و مزاح يو ادبي صنف دے ـ دا وضاحت مې دلته ځکه ضروري وګڼلو چې د پښتو ځنې پوهانو د ادبي صنف په نامه ياد کړے، خو دا وضاحت ئې ورسره نۀ دے کړے چې طنز و مزاح بيا ځانله څۀ فني چوکاټ لري که نۀ ـ لکه په "زرکانے"۱ نومې کتاب کښې دا دعوٰی شوې ده ـ

---

1 Lecturer GDC Thana Malakand

طنز و مزاح ځانله یو صنف په دې وجه نۀ شي کېدلے چې دا په نثري او شعري همه اصنافو کښې کېدے شي ـ لکه ډرامه، افسانه، تکل، خاکه، مضمون، پابند نظم، معرٰی نظم، ازاد نظم، غزل، هائیکو وغېره کښې چې پنځونکے وغواړي کولے شي ـ

د طنز و مزاح تعلق د ظرافت او خندا د حس سره دے ـ د طنز و مزاح په حقله بلها خبرې کېدلے شي، چې دا ځائے د بحث نۀ دے ـ البته طنز چې په انګرېزۍ ژبه کښې ورته۲ "Satire" وائي هر هغه لیک ته وئیلے شي چې د هغې په مدد لیکوال د ټوقو په پرده کښې یو څیز یا موضوع باندې ډېره بې رحمۍ سره تنقید کوي او د هغه څیز یا موضوع ګنې اړخونه رابرڅېره کړي، چې د لیکوال د طنز نخښه وي ـ خو طنزنګار دا ترابښۀ په خوږو کښې لړلې په داسې رنګ پېش کوي چې د طنز نخښه کونکې ئې په خندا خندا کښې وزغمي ـ

بل طرف ته مزاح، چې په انګرېزۍ کښې ورته "Humour" ۳وائي، کښې لیکوال په یو څیز یا موضوع چې د معاشرې ناهموارۍ سره تعلق لري، مزاح کوونکے پرې همدردانه تنقید کوي٤ ـ چې د خندا حس ورسره شامل وي ـ یعني په طنز کښې د نشتریت عنصر شامل وي او په مزاح کښې د همدردۍ عنصر ـ خو په ادب کښې طنز و مزاح په مرکب شکل کښې رواج موندلے دے ـ کومې لارې چارې چې د طنز د پاره پکارولې کېږي، اکثر هغه د مزاح دپاره هم پکارولے شي ـ په دې وجه د یو بل سره د لازم او ملزوم حېثیت ئې تر لاسه کړے دے ـ

غني خان چې په پښتو ادب کښې د خوشحال بابا نه پس یو ځانګړے اسلوب او مکتب لري، چې په نړۍ کښې بلکل یو ځانګړے طرز بیان لري،د ډېرو کمو خلقو په نصیب شوے دے ـ خو هر څوک چې دغه کمال ته رسېدلے دے، د هغوي د ادیبانه حېثیت دنیا معترفه وي ـ خو بل پله دا هم وئیلے کېږي، چې په انفرادي توګه څوک ځانګړے اسلوب ونۀ لري نو هغه د تقلید په زومره کښې راځي ـ او د جدت نۀ خپلولو په وجه ئې شاعرانه عظمت له مینځه ځي٥ ـ په پښتو ادب کښې د غني خان طرز په هغه شروع کېږي او په هغه ختمېږي ـ ځکه چې دغه سبک په معنوي او صوري دواړو اړخونو دومره اوچت او ګران دے، چې د هر چا د خپلولو د وس خبره نۀ ده ـ

د غني خان سبک د نورو خصوصیاتو سره یوه خاصه د طنز و مزاح هم ده، چې تر دې دمه پرې سرسري بحث کله نا کله مقاله نګارانو کړے دے ـ خو ولې د غني خان په کلام کښې طنز و مزاح د معیار سره سره د ځانګړي اسلوب په رنګ کښې رنګ د مقدار په لحاظ هم دومره زیاته ده، چې د څو کتابونو د ضخامت متقاضي حېثیت لري ـ چې تر دې دمه لکه څنګه چې پکار وه د غني خان په دې اړخ د هغه د حق ادا کولو کار نۀ دے تر سره شوے ـ په دې سرسري څېړنه کښې به هڅه کولے شي، چې غني خان د طنز و مزاح اړخ په مختصره مګر په جامع طریقه راوسپړدلے شي ـ خو ولې ددې مقالې اختصار به زمونږ د هڅو مېنځ کښې خنډ جوړېږي ـ البته چې څومره کېدلے شي، هغه به تر سره کړو او څېړنه یو مسلسل عمل دے، نوې نوې لارې رامخې ته کوي او د غني خان د طنز و مزاح دا موضوع به د نوؤ زاویو نه څېړونکي ځېري ـ دا وضاحت دلته ځکه ضروري دے، چې غني خان د خپل وخت یو جینئس فنکار دے او بل طرفته د هغه مطالعه او مشاهده دومره ژوره ده چې دغې ته کوزېدل هم د غني خان غوندې جینئس څېړنکار غواړي ـ تر دې دمه چې په غني خان څومره هم کار شوے دے نو هغه عالمانو او څېړنکارانو د خپل علم او مشاهدې مطابق کړے دے او د هغې لویه وجه هم دا ده چې د غني فکري الوت ډېر زیات اوچت دے او بل طرفته د هغه شخصیت او روح دومره پاک سپېځلے او ځانګړے دے چې عام انسانان د هغې احاطه نۀ شي کولے ـ ددې مثال مونږ داسې ورکولے شو چې غني خان چې د کومې دنیا یا جهان کښې خپل روحاني او علمي سفر کړے دے هغه ډېر زیات، ښائسته او سپېځلے او د دوکو فرېبونو نۀ صفا دے ـ او بل طرفته مونږ د یو داسې دنیا خلق یو چې د دنیا ماده پرستۍ حرص، لالچ په دنیا کښې ګډ یو ـ نو ظاهره خبره ده چې د هغه او زمونږ په فکر او مشاهده کښې به ډېر فرق وي ـ

زما په خیال د غني خان د طنز و مزاح په حقله د ټولو نه وړومبے ماسټر عبدالکریم بحث د "پنجرې چغار" په پېژندګلو کښې کړے۶ ـ او بیا فضل غني غني په خپله مقاله "د غني خان د پښتو ادب د شلمې صدۍ شخصیت" کښې په دې حقله بحث تر سره کړے، چې غني خان دغه لاره څومره په خوند خپله کړه ـ دلته ئې هم د هغه د قلمه راخلو ـ

"د طنز و مزاح نه واخله تر یوې ډېرې ژورې فلسفې پورې غني خان څۀ په داسې طریقه روان وي چې لوستونکي ته هډو دا پته اونۀ لګي چې دے اول کوم ځائے وو او اوس کوم ځائے دے،هغه

په خندا خندا د معاشرې په ناسور ګوتې وهي، نخرې او پيښې ورته کوي، خندوي ئې ـ تخنوي ئې او چې هر کله پوئې شي چې اوس دغه ناسور اودۀ شو ـ دا اپرېشن شو نو بيا د طنز و مزاح نه لاس واخلي او د حقيقت او سنجيدګۍ نشتر ته لاس کړي او په ډېره اوښيارۍ ئې د ناسور په سر کېږدي او په دې دومره وخت کښې هډو څوک پوئې نۀ شي چې څۀ وو او څۀ اوشو۷"

دا د غني خان د اسلوب کمال دے چې لوستونکے په خندا خندا کښې داسې ځائے ته بوځي چې هغه په خپله حېران پاتې شي چې څۀ وو او څۀ اوشو ـ ځکه خو د عابد سلطان خبره سل په سل صحيح ده چې: که څوک ووائي چې زه په غني خان پوهه شوم نو هغه پوهه نۀ دے ـ او که دا ووائي چې زۀ په غني خان پوهه نۀ شوم نو دا پرې پوهه دے۸ ـ ددې بنيادي وجه هم دا ده چې د هغه فکري الوت ډېر لوړ دے ـ

غني خان د طنز و مزاح لاره ځکه خپله کړې وه چې يو طرفته معاشره د واعظ د وعظ نصيحت او د روايتي مُلا د تبليغ نه سترې او بل طرفته د هغه وخت حالات داسې کړکېچن وو چې غني خان په خپله په دې پوهه وو چې اوس د مقصديت لاره خپلول ډېرضروري دي۹ ـ غني خان په خپله په دې حقله داسې وائي ـ

> "د شروع نه زما په طبيت کښې د طنز و مزاح عنصر شامل وو ـ او بل د هغه وخت ماحول څۀ دا رنګه وو چې ما په خپله شاعرۍ کښې د ګل او بلبل، د محبوبو د زلفو د قصيدو په ځائے د حقايقو په ګوته کول زيات خوښول او دا هر څۀ په طنزيه نظمونو کښې ښۀ تر سره کېدل ـ نو په دې غرض ما په خپل ځان د طنزيه شاعرۍ په زريعه ټکونه وکړل ـ خپل مې هم معاف نۀ کړل ـ ددې عادت له وجې خپل پردي ټول به زمانه خفه وو ـ او هم په دې وجه زۀ د حکومت د ظلمونو هم ښکار شوے يم خو ولې ما خپله لاره نۀ ده پرېښودې"۱۰

غني خان د طنز و مزاح اسلوب په زور نۀ دے خپل کړے بلکې دا په هغه کښې فطري طور موجود وو ـ چې ډېر په ښۀ طريقه ئې ترې کار تر سره کړے دے ـ غني خان نۀ صرف يو کس په نخښه کړے دے بلکې هغه د ژوند په هر اړخ باندې د طنز نيلے زغلولے دے ـ د خپل ذات،

چاپېرچل نه واخله تر د سماجي معاشي، او ټولنيز ژوند پورې چې کومې خرابۍ ليدلي دي۱۱، نو په هغوي ئې ښۀ په نره او بې باکه طنز کړے دے ـ

غني خان دغه طنز د خپل فطري انداز سره سره د پښتني اقدارو په دائره کښې دننه په داسې هوښيارتيا تر سره کړے چې د يو حقيقيت پسند پښتون خاصه ده ـ

د غني خان د ژوند په هر اړخ طنز تر سره کړے دے چې پکښې د ژوند سره تعلق لرونکو په ظاهره وړو وړو خرابيو باندې تنقيد ښکاري خو په اصل کښې دغه وړې وړې ستونزې د ژوند په هر اړخ ډېر بد اثر غورځوي ـ دلته مونږ د غني خان د طنز په نخښه کړے شوي غټ غټ اړخونه په دا رنګه تقسيموے شو ـ

## انفرادي

په انفرادي طنز کښې غني خان خپل ځان هم نۀ دے معاف کړے او خپل نزدې او لرې همه خلق د طنز نخښه ګرځولي دي ـ د ځان په حقله وائي ـ

ما ويلې غني يار څۀ بې اندازه غوندې ئې
ادب دے درکې کم زبان درازه غوندې ئې
قيصه دې ګډه وډه نه سم خان شوې نۀ ټوقي شوې
خو ته دې دو پيازؤ کښې څۀ درې پيازه غوندې ئې
که رنګ وي، که تراش وي، که چاربېته که بدله
په خپله لار روان ئې بې استاذه غوندې ئې۱۲

او دغــــه شان "د هشنغر مغرور ملنګ"۱۳ کښې ئې هم په ځان ټکونه کړي دي ـ ګاندهي جي چې غني خان ئې په ډېرو ځايونو کښې صفت کړے خو د طنز د غشي نه ئې هغه هم نۀ دے پاتې شوے ـ هر کله چې د پونې د کانفرنس نه پس د هند پينځه زره خلق جېل کښې وو، ګاندهي ته وائي ـ

ما نه دې جوړ کړو د پوه ماه توت
نو تا شروع کړو کار د اچهوت
جنګ دې شروع کړو اوس ترېنه لاړې
داسې جنګړې د هند راچپوت ۱٤

د دې نه علاوه په معشوقه، باچا خان، ولي خان او افلاطون وغېره ئې هم طنزيه انداز خپل کړے دے ـ دا د غني خان په جرأت مندانه شخصيت دلالت ورکوي ـ

## اجتماعي

په اجتماعي طنز کښې د غني خان هغه ټول شعرونه رائحي چې پکښې په قام، اولس، پښتون، افغان، يورپ او داسې نورو ډېرو اړخونو باندې طنز شوے دے او ورسره هغه نظمونه هم ډېر زيات د اهميت وړ دي چې د مختلفو مارغانو، څناورو، چينجو په علامت کښې د انسانانو په غلطو رويو طنز شوے دے ـ که مونږ دلته صرف د هر يو نظم نه يو يو شعر هم قدرې رانقل کړو نو د مقالې ضخامت به ډېر اوږد او طويل شي ـ په دې وجه د ډېرو نمونو نه ځان ژغورم، صرف يوه نمونې دوو باندې به اکتفا وکړو ـ

چرګ

خوراک کوي د سپي او مسئلې د ملايانو
بانګونه د بلال او لنګوټے د چنګنړيانو
پرتوګ دې ياره نيشته او شمله نېغه د خان
شل ښځې دې ساتلې خو سحر وائې اذان
په جنګ کښې بهادر او مستانه لکه چنګېز
په مينه کښې بې شرمه بې پروا لکه انګرېز
اواز دې د پښتو دے او انداز دې د مستر
انجام دې اخر تيغ دے اے مجنونه د ډېران

يوه ورځ به وروستے بانګ وکړي دودی به وکړي خان۱۵

که مونږ وګورو نو غني خان په دې نظم کښې د چرګ په استعاره کښې د څومره خويونو او رويو نه پرده پورته کړې ده او د انسانانو بد خصلتونه ئې څومره په کمال سره غندلي دي ـ او په خندا خندا کښې ئې چنګېزي او انګرېزي بدې روېې په کمال سره د طنز نخښه کړي دي ـ

دغه شان چيندخ، چينجے، خرو، د بادو خر، لنډے چرګ، ماشے، ملاچرګک، مږه، مچ، مېږے، اس بدو، اوښ او توره مچۍ، نومې نظمونو کښې په علامتي بڼه کښې په بدو انساني خويونو ئې دومره په بې باکۍ او کمال سره طنزي ګوزارونه کړي دي،چې د ژوند هر بد اړخ ئې لوستونکيو ته بد ښکاره کړے دے ـ

دغه شان اجتماعي طنز و مزاح لاندې خو د ژوند ټول اړخونه راځي،لکه څنګه چې د غني خان په کلام کښې د ژوند هر اړخ او د دنيا د همه جينئس پوهانو رنګ او طرز ليدلے شي خو دا غني خان په کلام کښې داسې ښکاري چې په هغهٔ کښې چې لکه دا په فطري توګه موجود وو ـ څنګه چې وړاندې ووئيلے شو چې غني خان په خپل کلام کښې د پښتني ښو اقدارو او نفسياتي رويو نه غېر فطري بغاوت چرته هم نهٔ ښکاري ـ دا رنګه د غني خان د طنز و مزاح دائره د پراختيا سره سره د پښتني ثقافت امين داره هم دهٔ، خو دلته زمونږ غرض دا دے چې د غني خان د اجتماعي طنز و مزاح اوس په جزوي توګه نور هم په څو غټو غټو اړخونو ويشلے شو ـ

## قامي

په قامي يا په افغان اولس چې په اجتماعي توګه کوم طنز شوے دے هغې له مونږ قامي يا اولسي طنز وئيلے شو ـ اګر چې په دې طنز کښې بلها اړخونه دي خو مونږ دلته د نمونې په توګه يوه بېلګه راوړو ـ

څنګه چې مونږ ته پته ده چې د انګرېزي استعمار په خلاف، باچا خان په مشرۍ کښې د خدائي خدمتګار تحريک په شکل کښې د فيرنګي نه د ازادۍ حاصلولو سره سره د اولس د اصلاح دپاره هم هڅې روانې وې، چې تر ډېره حده کاميابي شوې هم دې، خو په دغه وخت کښې په پښتون

اولس کښې هم ډېر بد خويونه او رسمونه وو د هغې خلاف د خپل پلار په شان غني خان هم د هغې نه سترګې نۀ دي پټې کړي ـ

په مونږ کښې د ټولو نه لويه مسئله دا ده چې مونږ په خپل مينځ کښې يو بل ته ډېر تورزن او تکړه يو خو بهر ته چې زمونږ کوم اتفاق او تحاد ضروري وي نو د هغې دپاره مونږ من حيث القوم هغه کردار ونۀ لوبوو ـ چې د کوم ضرورت وي ـ غني خان دې طرف باندې هم ډېر بې باکه طنز کړے دے بلکې د هغه ټوله مقصدي شاعري ددې نه عبارت ده،خو دلته د بيلګې په توګه يو شعر هم کافي ګڼم ـ

دا دې لا نوے هنر دے چې خپل ورور وژني آ نر دے
پېرنګي ته خو ټينګ نۀ شو چې ئې کړلي پېزواني۱٦

## سياسي

لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې غني خان د پېرنګي استعمار په وخت کښې پيدا شوے وو ـ اول ئې په خپله عملي سياست هم کړے دے ـ او بيا ئې د تعليم په مد کښې يورپ هم ليدلے وو ـ د آل انډيا د پارلمنټ غړے پاتې شوے وو ـ سياست پېژندنه د هغه د پاره هيڅ نااشنا خبره نۀ وه ـ بل طرفته د عالمي سياست د چالونو نه هم خبر وو ـ نو په دې حقله هغه د ټولو سياسي خرابيو او بديو نه ښۀ خبر ؤ ـ او بيا د سياسي وا کدارانو يا د ليډرانو چې کومه ضمير فروشي شوې ده نو دغه هر څۀ ئې ليدل او غني خان پرې ښۀ بې يرې او بې ترهې طنز کړے دے ـ دلته به د نمونې په توګه د هغه ليډر نومې نظم ته لږ غوږ شو ـ

ليډر

| | | | |
|---|---|---|---|
| د | کارغه | خله | کړه |
| ژبه | د | مار | کړه |
| د | چرګې | عقل | کړه |
| زړۀ | د | سيار | کړه |

مړی د سپي کړه
چې ښۀ غپار کړه
هنر د ښچر کړه
غرور پرې بار کړه
خته د کلي
ډېران د ښار کړه
بیا چړته روند
کولال یو یار کړه
تاله به نوے
لیډر تیار کړه۱۷

## عقل او تهذیب

د عشق او عقل موضوع ډېره پخوانۍ او لرغونې پاتې شوې ده،څوک د عقل طرفدار او چا د عشق لاره خوښه کړې ده ـ په دې حقله چې مونږ د غني خان د کلام جائزه اخلو نو هغه زیاتره د عشق د لارے لاروے دے او د عقل چې تر کومه حده ضرورت او اړتیاده د هغې نه هم سترګې نۀ پټوي ـ او د عشق په حقله د حسن تلاش یا لټون ډېر ضروري ګڼي ـ د عشق بنیادي سبب هم جمال یادوي ـ او بغېر د جمال نه د عشق شتون ناممکنه ګڼي ـ ځکه خو غني خان د جمال په لاره حسن مطلق ته رسېدلے ښکاري ـ د عشق او مینې په حقله داسې وائي ـ

حسن پلار د مینې او مور د عشق
پکښې پټ دي ټول سپین او تور د عشق۱۸

د عقل او سپورې فلسفې په حقله ئې په علامتي ښه کښې د فلسفیانو غندنه کړې او په اصلي معنیٰ کښې د وجداني او سرمدیت قایله، ددغې لارې لاروے دے ـ ځکه خو ئې د منصور اصلي حقیقیت ستائیلے دے۱۹ ـ د منطق او عقل فلسفه ئې غندلې ده ـ

عقل خؤ دوه ګامه لاړ شي
اخوا ته ورک او حېرانه شي ۲۰

نمر به ستوري ټول جليا کړي سپوږمۍ زمکه به چوري کړي
فلسفيان منطقيان واړه به چقنيا لکه مېږي کړي ۲۱

او بيا په نام نهاده او ماده پرستو مهذبو طنز داسې کوي ـ

په چا چې تهذيب ډېر شي
ملوے يا ملولا شي ۲۲

او په "نرس" نومې نظم کښې مغربي تهذيب داسې د طنز نخښه کوي ـ

د مغرب چړ تهذيب
دا يوه مسته شان بلا کړه ۲۳

## نام نهاده مذهبيان

زمونږ په معاشره کښې د ډېرې مودې نه دا يوه غټه مسئله جوړه ده چې د مذهب په نوم نام نهاده مذهبي مشران د لالچ په خاطر د بنياد پرستۍ په جامه کښې استعمال شوي دي ـ د مذهب د صحيح استعمال په ځائې هغوي د مذهب غلط استعمال کړے دے او لا تر دې دمه لګيا دي کوي ئې ـ په دې ډله کښې جعلي پيران، او تنګ نظره او کم علمه ملايان هم شامل دي ـ که د غني خان په کلام کښې مونږ وګورو نو د هغه د نظر نه دغه خلق هم پناه نۀ دي پاتې شوې او د ملا په علامت کښې په دغه مفادپرستو او کم علمو باندې دومره تېز او تond طنز کړے دے چې زما په خيال تر دې دمه په پښتو ادب کښې د غني خان نه په دې اړخ چا زيات طنز نۀ دے کړے ـ زما په خيال په دې موضوع د غني خان ډېر خلق خبر او پوهه دي دلته ئې د بيلګې ضرورت نشته ـ

ددې نه علاوه غني خان په سماجي، معاشي خرابيو سره سره په ادبي کمزوريو هم په اديبانو او شاعرانو ټکونه کړي دي ـ په معاشره يا دنيا کښې ئې چرته هم څۀ داسې ناهمواري يا غلطي ليدلې ده

نو غني خان پرې ښهٔ په خلاص مټ طنز کړے دے ـ ددې نه علاوه په خاصه توګه چې غني خان د ګډې وډې د عنوان لاندې ځومره شاعري کړې ده هغه ټوله په حقيقت مبني ده ـ او د حقيقت په لاره ئې په سماج او ټولنه او د ټولنې په همه ناهمواريو ښهٔ بې باکه طنز کړے دے، چې د هر دور او هرې علاقې انسان د هغې په رڼا کښې خپله اصلاح کولے شي ـ ددې دعوې دپاره به د غني خان د لټون د ګډې وډې د عنوان لاندې ټوله شاعري لوستل وي ـ چې ډېره په اسانه او روانه ژبه کښې د انسان په بدو خصلتونو حقيقي طنز کوي، چې انسان د اصلاح لارې ته سموي ـ

غرض دا چې د ژوند يو داسې اړخ به نهٔ وي پاتې شوے چې غني خان پرې بحث نهٔ وي کړے ـ او چې بيا ئې هم چرته انساني بدې روېې ليدلې دي نو په هغوي ئې ښهٔ په بې باکۍ سره طنز کړے دے او دا د يو حقيقت پسند او ذمه وار اديب خاصه ده او په دې حقله د غني خان ښهٔ پوره شاعري موجود ده چې نورو ځېړنو ته اړتيا لري ـ

په پښتو ادب کښې چې په جديد شاعرانو کښې غني خان په خپل وخت د سماج په ناهمواريو باندې ځومره په خلاص مټ طنز او تنقيد کړے، زما په خيال په دومره بې باکانه او جرأت مندانه طريقه تر دې دمه د يو بل شاعر نهٔ دے په نصيب شوے ـ

## ماخذونه


۱: يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار پيښور، مخونه ۲۱۱، ۲۱۲

۲: M. Zaman, Rabia Dictionary, Published by, Rabia Book House (Lahore), Page No. 525

۳: Universal Dictionary & theseusiusm, published 2010, by Geddes and Grosset, 144 Port Dundas Road, Glasgow G4042, Page 244

۴: جان، حکيم الله، ډاکټر، په پښتو ادب کښې د طنز و مزاح تنقيدي جائزه، د پي ايچ ډي ناچاپه مقاله، مخ ۱۰

۵: غني خان، لټون، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور،څلورم چاپ،ديباچه يا پېژندګلو،ماسټر عبدالکريم، مخ: ي

۶: هم دغه، مخ: ي

۷: فضل غني غني، غني خان د پښتو ادب د شلمې صدۍ شخصيت، مارچ ۲۰۰۹ء، س ن، مخونه: ۲۴، ۲۵

۸: عابد سلطان، د غني د تول تله نشته، مشموله، مياشتنۍ پښتو مجله، جلد ۲۹، شماره، ۱،۲،۳،۴، جنوري، فروري، مارچ، اپريل، ۱۹۹۷ء، مخ ۲۲۰

۹: لړ، ف، ګیرس، د مېړني اولس ادبيات، مترجم، ډاکټر محمد اکبر شينواري، د قومونو قبائلو وزارت، کابل، ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۱۸۲

۱۰: عبدالکافي اديب، عبدالغني خان سے ګفتګو، سه ماهي ادبيات اسلام آباد، پاکستان، ګرما ۱۹۹۶ء ، جلد ۵، شماره ۲۰، ص ۱۵۵

۱۱: ډاکټر نصرالله جان وزير، غني خان شخصيت او فن، مارچ ۲۰۱۱ء، يونائټيډ پرنټرز کوئټه، ص ۱۹۷

۱۲: غني خان، لټون، مخ ۷۳۴

۱۳: هم دغه، مخ ۲۸۰

۱۴: هم دغه ، مخ ۱۳

۱۵: هم دغه، مخ ۱۵۸

۱۶: هم دغه، مخ ۶۵۴

۱۷: هم دغه، مخ ۴۲۹

۱۸: هم دغه، مخ ۵۱۶

۱۹: هم دغه، مخ ۴۶۶، ۴۶۷

۲۰: هم دغه، مخ ۳۶

۲۱: هم دغه، مخ ۶۱۶

۲۲: هم دغه، مخ ۱۲۵

۲۳: هم دغه، مخ ۵۲۶